عبدالحفیظ ملیار ۲۰۱۳/۰۸/۱۹

# د افغانستان د ازادي د ورځ په وياړ

که وواييي سلام زما په شاه امان الله خان باندی
دا ملی اتل ملی رهبر او قهرمان باندی
گرانه ننگرهاره

دا وه د عزت ننگ او ناموس او حریت مین
دا د ازادی او او سرلوړی او شرافت مین
قبر يي ورته وينځه د عطرونو په باران باندی
گرانه ننگرهاره

گرانه ننگرهاره ماته بيا د گلو هار جوړ کړه
بيا د ملنگ جان د ارمانو د زړه پرهر جوړ کړه
که جوړه پښتونخوا شی بيا به يي ږدم فخرافغان باندی
گرانه ننگرهاره

جار شه له ملالی د هغی غيرتی ننگ ځينی
بيا د خوشحالخان دا د قلم او طوری شرنگ ځينی
درود د رحمت وايه په نا زو او احمد خان باندی
گرانه ننگرهاره

لاړ شه ميرويس خان ته په شملی يي عطر وشينده
ځومره چی کيدای شی په جرگی يي عطر وشينده
بيا می سلام وايه لوی اتل مو اکبر خان باندی
گران ننگرهاره

ای حفيظ ملياره مونږ ښايسته ښايسته گلان لرو
پت چی د وطن ساتی مونږ داسی شازلميان لرو
لوړ د وی بيرق د ازادی افغانستان باندی

گرانه ننگرهاره


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ